ځکه چې هر کس شمیرل کیږی

# مطبوعاتی اعلامیه

## د نړۍ نفوس له اوه میلیارده وګړیو څخه زیات شو

31 اکتوبر، 2011 کابل

### ملګری ملتونو اټکل کړی چې د نړۍ نفوس به نن تر اوه میلیارده ورسیږی. دغه نړیوال پړاو یو لوی فرصت او لویه ننګونه ده.

هغه ننګونې چې بشریت ورسره مخ دی په داسې حال کی چې د نړۍ نفوس اوه میلیاردو ته رسیږی په هغه راپور کې وړاندې شوي چې د ملګری ملتونو د وګړو صندوق لخوا خپور شو، دغه راپور د ملګری ملتونو د وګړو صندوق لخوا په ټوله نړۍ کې په ۲۶ د اکتوبر خپور شو.

**د ۲۰۱۱ کال د نړۍ د وګړو وضعیت: خلک او امکانات په اوه میلیاردیزه نړۍ کی** خلک او امکانات دا څرګندوی چې هغه کارونه چې مونږ یې نن ترسره کوو کولی شی چې مالوم کړی چې د نړۍ نفوس به د دغه پیړۍ تر آخره تر ۱۰ میلیاردو یا ۱۶ میلیاردو ته ورسیږی، او دا یقینی کولی شی چې زمونږ راتلونکی به لا زیات متساوی او چاپیریال به مو با ثابته وی.
د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق اجرایوی رییس داکتر باباتندی آستیمهین د رپوټ په وړاندی کولو کی وویل:
"اوس پلان جوړونه او د خلکو لپاره سمه پانګه اچونه ــ تر څو هغوی ته واک ورکړی چې خپلې پریکړې پخپله وکړی چې نه یوازې د دوی لپاره ښه ده بلکې زمونږ د نړیوال ولس لپاره هم ښه ده ــ زمونږ د اوه میلیارده نفوس نړۍ کولی شی ښیرازه ښارونه، او تولیدوونکی بشری قوه چې اقتصادی پرمختګ ګړندی کولی شی، د ځوانانو نفوس چې د ټولنو په ښه کولو کې خپل رول لوبولی شی مینځ ته راولی."
د سږنی کال د وګړو د نړیوال وضعیت رپوټ، خلک او امکانات په اوه میلیاردیزه نړۍ کې د نفوسو تحولاتو ته ګوری تر دې چې شمیرو ته وکتل شی. دغه هغه تحولات را تشریح کوی چې زمونږ د اوه میلیارده نفوس نړۍ تعریفوی او هغه کارونه چې خلک یې زیات په مختلفو هیوادونو او حالتونو کې په خپلو ټولنو کې ترسره کوی چې زمونږ او خپلې نړۍ زیاته برخه جوړوی. دغه یوازې له ساحې څخه یو رپوټ دی چې دیموګرافران، پالیسی جوړونکی، دولتونه، مدنی ټولنی او اشخاص یې له د نفوس د خوځښتونو سره په مبارزه کې دی چې له سپین ګیرو څخه په تیزی سره تر زیاتیدونکو ځوانانو پورې ، د نفوس د زیاتیدو له لوړی کچه څخه تر ټیټې کچې پوری، د ښاری کیدنې له لوړې کچې څخه تر زیاتیدونکی نړیوال کډوالۍ پورې. هغه هیوادونه چې په دغه رپوټ کې یاد شوی چین، مصر، ایتوپیا، فنلاند، هند، مکسیکو، مزمبیق، نایجیریا او د پخوانی یوګوسلاویا د مکدونیا جمهوریت دی.
د ۲۰۱۱ کال د وګړو د وضعیت رپوټ څرګندوی چې د نفوس مساله د ځای له مسالی څخه زیاته د بشری برابری او فرصت پوښتنه ده.

لکه څنګه چې زمونږ د اوه میلیاردو نفوس نړۍ د تحولاتو یو پیچلی تصویر او تناقضونه وړاندی کوی، یو څه نړیوال اړین حقیقتونه شته چې رپوټ ملاحظه کړی. دا پر ځای ده چې نوټ کړو چې نجونې او میرمنې پر واک رسول او له زده کړو څخه برخمنې کول دوی دې ته اړ باسی چې د خپلو میندو او نیاګانو په پرتله لږ ماشومان ولری او دوی دغه لار هر کله او هر چیری چې وغواړی خپلولی شی. دغه مشاهده هم شوی چې هلکان او سړی باید په دوامداره توګه پکې شامل شی ځکه چې دوی د روغتیا او پرمختګ لپاره مهم ملګري دي.
د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق راپور ورکوی چې د ځوانانو په اړه لا زیاتو پانګونو ته اړتیا ده.د اوه میلیارده نفوس په نړۍ کې ۱,۸ میلیارده ځوانان دی چې عمرونه یې د ۱۰ او ۲۴ کلونو په مینځ کې دی. د نوی نسل د مور او پلار او استاذانو په توګه، د هغوی انتخابونه د راتلونکی نفوس میلانونه ټاکلی شی. د ځوانانو په روغتیا او زده کړه کې پانګونه به د راتلونکی نسل لپاره په اقتصادی وده او پرمختګ کې زیاتې لاسته راوړنې راوړی.

په افغانستان کې د ملګری ملتونو د وګړو صندوق استازی ښاغلی آری هوکمین وویل:
" په افغانستان کی نژدې د ټول نفوس ۷۰ سلنه له ۲۵ کلونو څخه کم کسان جوړوی. په ځوانو نجونو کې پانګونه د هیواد له تر ټولو غوره پانګونو څخه ده. د روغتیا، تعلیم او فرصتونو سره نجونې او میرمنې کولی شی په بشپړه توګه له خپلو ټولنو سره مرسته وکړی او د بې وزلی په لری کولو کی ګټوری شی. د اوه میلیارده نفوس نړۍ تر شا د اوه میلیارده امکاناتو د لمانځلو لپاره د ملګری ملتونو د وګړو صندوق د افغان میرمنو د حقونو تر څنګ ولاړ دی تر څو د هغوی روغه موروالی خوندی کړی."

په دغه رپوټ کې انتخاب شوی دیموګرافیکی، اجتماعی او اقتصادی شاخصونه شامل دی چې هغه پرمختګونه څاری چې په ۱۹۹۴ کې د مصر په ښار قاهره کی د وګړیو او پرمختګ په یوه نړیوال کانفرانس کې پرې په نړیواله توګه موافق شوی وو.

په افغنستان کې د وګړو خوځښتونه په لاندینی شمیرو سره تشریح کیږی:

- د نفوس وده ۳,۱ سلنه
- ښاری نفوس ۲۳ سلنه
- د زیږیدنی د تناسب مجموعه ۶ سلنه (هغه ماشومان چې د یوې مور لخوا زیږول کیږی)
- د نارینه وو او ښځینه وو لپاره د ژوند توقع ۴۹ کاله ده
- هغه وګړی چې بهتر حفظ الصحوی اسانتیاوو څخه ګټه اخلی ۳۷ سلنه
- د میندو د مړینی کچه په هرو سل زره زیږیدنو کې ۱۴۰۰
- زیږیدنې چې د ماهرو روغتیایي پرسونل لا لاړې ترسره کیږی ۱۴ سلنه
- د ماشومانو د زیږیدو د مخنیوی پروګرام کچه هره طریقه ۲۳ سلنه، نوی طریقه ۱۵ سلنه

**د ملګری ملتونو د وګړو صندوق**: د ملګری ملتونو د وګړو صندوق یوه نړیواله پرمختیایي اداره ده چې د هرې میرمنې، سړی او ماشوم د حق دفاع کوی تر څو له روغ ژوند او مساوی موقع څخه خوند واخلی. د ملګری ملتونو د وګړو صندوق له هیوادونو سره ملاتړ کوی چې د وګړو ارقام د پالیسی او پروګرامونو لپاره کاروی تر څو بې وزلی کمه کړي او باوري کړي چې هره امیندواری اړین ده، هره زیږیدنه خوندي ده، هر ځوان کس له ایچ آی وی/ایډز څخه پاک دی او هرې جینۍ او میرمن سره د عزت او درنښت سره سم چلند کیږی.

پای

بشپړ رپوټ د انترنټ پر لیکه تر لاسه کولی شئ:

http://www.unfpa.org/swp

اړیکي:


د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق معاون استازی ښاغلی یونس پایاب - payab@unfpa.org

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق د اړیکو متخصصه آغلې ګیا چیتی ستریجیلی - chitistrigelli@unfpa.org